۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر اینده کشور است

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۴۲ ماه عقرب سال ۱۳۹۷

# معارف
اوونیزه
هفته نامه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

## سرمقاله:

# بلند بردن سطح کیفیت آموزشی مستلزم همکاری های همه جانبه اقشار کشور می باشد

اصول تدریس، راه ها و روشهای درست تطبیق آن که همانا استفاده درست و به موقع از روش های مروج دنیا می باشد می تواند در بلند بردن سطح کیفیت نظام آموزشی کشور مفید واقع شود و یکی از اصولی است که نظام آموزشی ما به آن اشد ضرورت دارد.

معلمان عزیز بایدگروه های مختلف از شاگردان را که عموماً به سه بخش تقسیم می شوند(شاگردان ذکی یا با هوش بلند، شاگردانی که دارای ذکاوت متوسط هستند و شاگردانی که به سختی درس ها را برداشت می کنند) از هم تفکیک نموده و با استفاده از روش های فعال تدریس محتویات درس را طوری ارائیه نماید که گروهای مختلف شاگردان اعم از قوی و ضعیف از آن استفاده مثمرنموده و شاگردان قربانی بی تفاوتی های میتودیک تدریس معلم نشوند.

به همین ترتیب معلمان گرامی در روز امتحان هم باید در ترتیب نمودن سوالات امتحان این سه گروه را مدنظر داشته سوالات را به نحوی تهیه نمایند که هر سه گروه بتواند سوالات امتحان را حل نماید تا شاگردان گروه سوم هم بتوانند سوالات امتحان را حل کرده و خود را در جمع همصنفان خود خوار، ذلیل و تنبل پیدا نکرده و احساس حقارت نکنند.

با تمام کوشش های که یک معلم در راه آموزش اولاد وطن میکند... ص۲

# نړیوال بانک له پوهنې وزارت سره ۲۹۸ میلیون ډالره مرسته وکړه




په هېواد کې د پوهنيز نظام د ودې او پیاوړتیا او د زده کړو شرایطو د ښه والي په موخه د افغانستان له پوهنې وزارت سره نړیوال بانک ۲۹۸ میلیونه ډالره وړیا مرسته وکړه. د نړیوال بانک له لوري دغه مرسته د هغې ۴۰۳ میلیونه ډالرو مرستې په چوکاټ کې له پوهنې وزارت سره شوې، چې تړون یې پدې وروستیوکې د افغانستان د مالیې د سرپرست وزیر او زېربنا یې چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار ډاکټر همایون قیومي او په افغانستان کې د نړیوال بانک د رئیس ښاغلي شوبهم چوهدري ترمنځ لاسلیک شو.

دغه مرستې په هېواد کې د لومړنیو او منځنیو زده کړو د ښه والي او د هېواد ټولو ماشومانو په ځانګړي ډول نجونو ته د باکیفیته او متوازنو زده کړو پر ودې او پیاوړتیا لګول کېږي.

د پوهنې وزارت سرپرست ښاغلی ډاکټر محمد میرویس بلخي وویل، چې د نړیوال بانک یاده ۲۹۸ میلیونه ډالره وړیا مرسته د پوهنې وزارت د ستراتیژیک چوکاټ په اړانه کې د اقراء پروګرام له لارې د افغانستان د ښوونیز نظام د ودې او پیاوړتیا او لومړنیو او منځنیو زده کړو ته د ټولو ماشومانو د متوازن لاسرسي په برخه کې لګول کیږي.ښاغلي بلخي ټینګار وکړ، چې اقراء د پوهنې کیفیت د ښه والي لپاره یو خورا مهم پروګرام دی او په ترڅ کې به یې جدي هڅې وشي چې د یادو مرستو پر مټ په بېلابېلو ښوونیزو برخو کې ټاکلو موخو ته په ښه ډول ورسېږو. د پوهنې سرپرست وزیر یادونه وکړه، چې... (۲مخ)

## نبراسکا مطبعه د پوهنې وزارت مطبعې سره یوځای شوه



د نبراسکا مطبعه د معارف مطبعې د پیاوړتیا او پراختیا په موخه له ټولو اړوندو تجهیزاتو سره له نبراسکا پوهنتون څخه پوهنې وزارت ته ولیږدول شوه .

د پوهنې وزارت سرپرست ښاغلی ډاکټر محمد میرویس بلخي وایي، چې د معارف مطبعې د غني کولو او د چاپ له اړخه د پوهنې وزارت پر پښو درولو لپاره یاد ګام اوچت شوی او هیله ده، چې د چاپ صنعت کې مثبت رقابت رامنځ ته او د دولتي عوایدو د ډېروالي سبب شي.

ښاغلي بلخي زیاته کړه، د نبراسکا مطبعه، چې د نبراسکا د یوماهای پوهنتون اړوند وه د لوړ ظرفیت او د وخت د مډرنو چاپ ماشینرۍ په درلودلو سره یې لومړی په پاکستان او وروسته په افغانستان کې فعالیت پیل کړ .ښاغلی بلخي زیاتوي، یاده مطبعه له تېرو پنځو کلونو راهیسې غیر فعاله وه، چې د پوهنې وزارت د وړاندیز او د وزیرانو شورا د پرېکړې پر بنسټ له یاد پوهنتون څخه... (۲ مخ)

# دکتر محمد میرویس بلخی با رئیس اداره یونیسف در افغانستان دیدار نمود



دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف افغانستان با عادلی خدر رئیس اداره حمایت از اطفال سازمان ملل متحد (یونیسف) در افغانستان دیدار نمود.

دیدار محمد میرویس بلخی و عادلی خدر روی چگونگی فعالیت های این اداره و وزارت معارف افغانستان متمرکز بود.

دکتر بلخی از پروژه مشترک اداره یونیسف و وزارت معارف یاد آور شده گفت: وزارت معارف به دنبال نظارت و گزارش دهی بیشتر از پروژه جاری می باشد تا در پرتو آن شفافیت بیشتر تامین گردد و برای سال ۲۰۱۹ خواهان پلان کاری از چگونگی طبیق پروژه جاری توسط اداره یونیسف بوده تا پیش از شروع این سال اولویت بندی برای هر چه بهتر شدن آموزش و پرورش صورت گیرد.

خانم عادلی خدر رئیس اداره یونیسف در پیوند به موضوعات ارائه شده تذکر داد: از اینکه اساس جوامع را معارف میسازد و هر چی در آینده به وقوع می پیوندد از آدرس معارف می باشد، این بهترین فرصت است که افغانستان وارد دهه معارف شده است.

اداره یونیسف متعهد به پاسخ گویی برای وزارت معارف بوده و خواست های این وزارت نشان گر کارکرد های مثمر برای معارف است. اداره یونسیف خواهان مصرف بودجه در مناطقی است که واقعاً نیازمندی در آنجا بالا بوده و از قبل اولویت بندی شده است.

اداره یونیسف از پروژه جدید "education can't wait یا تعلیم صبر نمیتواند" خبر داده و یاد آور شد که این پروژهٔ سه ساله برای آن عده اطفالی خواهد بودکه خارج از مکتب بوده و از طریق صنوف محلی آموزش خواهند دید.

در این دیدار از حمایت های تخنیکی اداره یونیسف و شرکای انکشافی در جلب کمک های مالی تقدیر صورت گرفته و روی یک طرح منطقی برای تطبیق پروژه ها در معارف افغانستان گفتگو صورت گرفت تا باشد از تطبیق بی موجب یا تکراری پروژه ها در عرصه معارف افغانستان جلوگیری صورت گیرد.

## دیدار دکتر محمد میرویس بلخی با سفیر جمهوری اسلامی ایران



## د پوهنې وزارت سرپرست د هېواد د ۳۴ ولایتونو د پوهنې له رئیسانو سره وکتل



## دکتر محمد میرویس بلخی با سفیر کانادا ملاقات نمود



## لوګرکې ۳۵ ښځینه ښوونکو ته د وړتیا لوړونې ورکشاپ پیل شو

په لوګر کې د نجونو ښوونځیو د ۳۵ ښځینه قرار دادي ښوونکو د وړتیا لوړولو دولس ورځنۍ روزنیز ورکشاپ پیل شو.

یاد ورکشاپ د پوهنې وزارت د شوي تړون له مخې د پروموټ پروګرام له لارې پیل شوی ،چې د مرکز، محمدآغې او خوشي ولسوالیو ښوونکې پکې برخه لري.

د دغه ورکشاپ موخه د یادو ښځینه ښوونکو د ظرفیت لوړول دي، چې د نجونو ښوونځیو کې د درسي کیفیت لوړوالي په مقصد روزنه ورکول کېږي.

د لوګر د پوهنې ریاست تدریسي مرستیالې مینې سادات د یاد ورکشاپ په پرانیسته وینا کې وویل، چې دغه روزنیز بهیر دوه نوري دورې هم لري، چې ۶۵ ښځینه ښوونکې به په کې وروزل شي.

د روان کال له پیله تر اوسه د لوګر تر ۱۰۰۰ ډېرو ښوونکو ته د ظرفیت لوړولو سیمینارونه جوړ شوي،چې د ښوونکو د ظرفیتونو په لوړولو کې ګټور تمام شوي دي.

## ارمانونه

دلته پلونه په گردونو کې ورک شوي
کاروانونه سهارونو کې ورک شوي
دې حالاتو خلک داسې ليوني کړل
چې د وخت په گردابونوکې ورک شوي
ويرې خپلې ريښې دومره ځغلولي
چې تنزري اوس په غرونو کې ورک شوي
ما دپلار نيکه كور کلى پيدا نکړ
د بارودو توپانونو کې ورک شوي
کلک عزمونه شړيدلي راته ښکاري
رغيدل يې په فکرونو کې ورک شوي
بورو ميندو توري خاورې په سر باد کړې
چې بچيان يې په جنگونو کې ورک شوي
لاسنيوی د هغه چا وكړه وارثه
چې په سترو ارمانونو کې ورک شوي

ارسالي: عزير

## بيا سرود بخوانيم

بيا سرود بخوانيم به افتخار وطن
كه لاله سر زند هرسو ز نو بهار وطن
بيا كه سفسطه كينه را ز دل بكشيم
به پاس مادر مسكين و داغ دار وطن
بيا كه غير خدا تكيه ما به كس نكنيم
كه تا درست شود باز كار و بار وطن
بيا كه دُزد نيايد ديگر به خانه ما
شويم هردو چو ، سرباز پاسدار وطن
بيا كه هر دوى ما اتفاق پيشه كنيم
به ضد خصم زبون ستم شعار وطن
بيا كه كودک افغان ديگر نريزد اشک
براى لقمه نان، گوشه وكنار وطن
بيا سلاح بگزاريم قلم به كف گيريم
بس است فزوده به اين رنج بى شمار وطن

راليږونكې: طاهره

## گرديد بهار

گرديد بهار و چمن است سبز بيا باز
چون فصل گُل از آمدن تو شود آغاز
در باغ همه مُنتظر آنكه تو آيى
بلبل به نوا آمده پروانه به پرواز
تا رنجه نماى قدم هرسو بخرامى
ايستاده به پا سرو كه آيى تو به صد ناز
اى معجزه پاک خداوند تو از لُطف
باز آه به نگاهى بنمايم تو سرافراز
بادام لب و پسته دهان چشم چو آهو
بنهُفته به گُفتار تو گنجينه صد راز
برگير صُراحى مى و آى به گُلشن
آتش به دل زاهد بى پا و سر انداز
مانند تو در دهر يكى نيست دل انگيز
خوش مشرب وخوش سيرت ورزيده وممتاز
از بهرحبيب است خزان همچو بهاران
گر بامن آشفته شوى يار تو دمساز

ارسالى:مختار

## درازترين پل جهان با طول حدود ۵۴.۷ كيلومتر

ساختن اين پل كه حدود يک دهه طول كشيد و كم و بيش ۲۰ ميليارد دالر هزينه برداشت، يكى از پر هزينه ترين پروژه هاى ساختمانى در جهان بود. قطار آهن تيزرفتار با هزينه ۱۱ميليارد دالر نيز شامل اين پروژه است.اين پل عجيب و مارپيچ مانند كه به نام"هانگ كانگ –روهاى – مكاو"ياد شده و از فراز درياى"مرواريد"چين ميگذرد،مدت زمان سفر ميان دو قلمرو خشكه را حدود سه ونيم ساعت كاهش مى دهد. در ساختن اين پل بيش از ۴۲۰ هزار تن آهن كار گرفته شده است. جزيره مصنوعى در مسير اين پل ساخته شده است كه امتداد آن را از طريق تونل زير دريايى به طول بيش از شش كيلومتر،فراهم مى كند تا كشتى ها نيز بتوانند از اين مسير پر رفت و آمد دريايى بدون اخلال عبور كنند.در جريان ساختن اين پل ۱۸ كارگر ساختمانى در اثر حادثات مختلف كارى، جان باخت و بيش از ۴۰۰ كارگر ديگر زخمى شد. طراحان اين پل گفته اند اين پل كه درمقابل توفان و زلزلۀ با شدت هشت ريكتر مقاومت دارد،براى ۱۲۰ سال قابل بهره بردارى است.

**ارسالي: نجيم**

## شهر غلغله

شهر غلغله يكى از هشت اثر تاريخى باميان است كه به عنوان ميراث فرهنگى جهانى در سازمان يونسكو به ثبت رسيده است و سالانه صد ها گردشگر داخلى و خارجى را بسوى خويش فرا مى خواند.
به روايت تاريخ، روزگارى پايتخت يكى از بزرگترين حكومت هاى اسلامى بوده، بجز چند مغاره، تعدادى ديوارهاى تخريب شده، برخى برج هاى ديدنى و يک منار مسجد، چيز ديگرى باقى نمانده است.در ويرانه هاى باقى مانده از شهر غلغله، ديوارهاى بسيار ضخيمى به چشم مى خورند كه نشانگر استحكامات قوى براى جلوگيرى از نفوذ دشمن به داخل شهر است. پروفيسور "زمريالى طرزى" باستان شناس افغانى الاصل فرانسوى كه هشت سال در باميان به تحقيقات و كاوشگرى هاى باستان شناسى پرداخته، گفته است كه در زمان آبادى اين شهر، ساكنان اين شهر آب مورد نياز خود را از يک تونل زير زمينى تامين مى كردند به گفته او، اين تونل نيزاز آثار تاريخى باميان به شمار ميرود منبع اين تونل آبرسانى، چهار كيلومتر دورتر از شهر قرار داشته است.كاظم يزدانى تاريخ نگار معاصر كشور بر اين باور است كه جمعيت شهر غلغله در اوج رونق و شكوه از چهار هزار نفر بيشتر نبوده، زيرا نشانه ها و آثار باقى مانده واضح مى سازد كه محدودۀ شهر بيشتر از آن گنجايش نداشته اينكه چرا غلغله ميگويند در كتاب "باميان سرزمين شگفتى ها" نوشته كاظم يزدانى آمده است كه وقتى مغول‌ها بر قلعه يورش بردند، جنگ خونينى رخ داد. از هر گوشه فرياد، گريه، زارى و هلهله بلند بود؛ شايد به همين خاطر پس از ويرانى نام «غلغله» را كه به معنى غوغا و فرياد است، بر آن نهادند.

**ارسالي: فرملی**

## سلام د مينې

خدايه د چا په در به وكړمه سلام د مينې
په دې وطن كښې هيڅوک نه مني پيغام د مينې
په سپينه ورځ مې د گلانو هار ستا غاړې ته ووړ
خو چې زه تا ته رسيدمه شو ماښام د مينې
هم دى قاتل د محبت هم يې په زړ كښې مينه؟
دغه چې خلې نړوي په احترام د مينې
راځئ چې ټول نيتونه وتړو په نوم د مينې
خداى مهربان دى چرې را به شي امام د مينې
بس چې ځواب ستا د كوڅې شو ها وړوكى ربيار
د فروتن په هغه ورځ وو اختتام د مينې

راليږونكى: ولوله

## غزل

ځومره په پام څه په تدبير مې فنكاري كړيده
چې هم مې زړه بايللې هم مې دلداري كړيده

ما ددې ښار په ښكلو، ښكلو باندې زړه ويشلئ
چا ددې ښار په ښكلو ، ښكلو پابندي كړيده

ما د طورات له آياتونو نه غزل جوړ كړئ
ما خو د مينې په سندرو زنده گي كړيده

خدايه ما اوتا په گډه ځومره ښه كارونه كړي
تاپې تصوير ويستلې ما يې شاعري كړيده

خود به سرلوړې د صلات له نرئ تاره وځم
ما د كفارو سرزمين كې ديندارې كړيده

مرئ ،مرئ مې كړه تسبيح مې په تار د تكبير
آرينه ما دې زړه كعبه كې وداني كړيده

راليږونكى: رساله

## معلم

گورئ څه عجب مقام دى د معلم
هر بيان نوى الهام دى د معلم
در ناوى د مور او پلار او دوطن كړئ
ټول بشر ته رسيدلى دا پيغام دى د معلم
ټول ژوندون يې په ولاړه باندې تير شي
راشئ گورې دا مقام دى د معلم
نه يې طمع، توقع د هيچا كيږي
داسې فكر او انعام دى د معلم
دوطن ورانې په ستر گو باندې ړوند كه
خوږې مينې نه چې ډک دى هر كلام دى د معلم
تل نظرېې وي په خلكو ځان يې هير وي
بل څوک نه دى دا پيغام دى د معلم

راليږونكى: حسيبا

## غزل

د نفرتونو په دنيا كې زندگې گرانه ده
خدايه خندا راكه ژړا كې زندگې گرانه ده
زه بې له تا نه ژوندون نه غواړم باور دې وشه
چې بې له تا مې د بل خوا كې زندگې گرانه ده
هسې ډير وايي چې يوازې چرته ووسيږم
خو تنهايي او په صحرا كې زندگې گرانه ده
خدايه زموږ له وطن دا يزيدان وباسې نور
زمونږه نوره كربلا كې زندگې گرانه ده
موږ يو بل نه وژنو موږ يو بل سره مينه كوو
د چا د لاسه مو دنيا كې زندگې گرانه ده
كه "پسرلى" نه وي زه مرمه اى ظالم خزانه
اخر گلاب يم زما تا گې زندگې گرانه ده

ارسالى:عبدالجبار

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 242, Month – October 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

## دیدار دکتر محمد میرویس بلخی با سفیر جمهوری اسلامی ایران

دوکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با آقای محمد رضا



بهرامی سفیر جمهوری اسلامی ایران در مقیم کابل دیدار نمود.
در این دیدار روی همکاری های دو جانبه میان دو کشور در بخش توسعهٔ سکتور معارف گفتگو صورت گرفت.

دوکتر محمد میرویس بلخی با اشاره به جذب نزدیک به ۹ میلیون شاگرد در مکاتب افغانستان در یک و نیم دهه گذشته یاد آور شد: در گذشته بیشترین تمرکز معارف افغانستان روی کمیت بود اما در حال حاضر بر اساس پالیسی جدید معارف که برای پنج سال طراحی شده است، زمینه برای تجدید نصاب آموزشی و الگو برداری از مودل های جدید آموزش و پرورش، ارتقای ظرفیت معلمین و تبادل تجارب مساعد شده و تلاش ها روی بهبود کیفیت معارف متمرکز است.
سفیر جمهوری اسلامی ایران دستاوردهای وزارت معارف افغانستان در عرصه رشد و توسعه آموزش و پرورش را قابل تحسین دانست و خواستار سفر رهبری وزارت معارف افغانستان به کشورش شد تا زمینه تبادل تجارب میان رهبری سکتور معارف دو کشور مساعد گردد.
در این دیدار روی یادداشت تفاهم میان وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان و وزارت آموزش و پرورش جمهوری اسلامی ایران بحث صورت گرفت.

## دکتر محمد میرویس بلخی با سفیر کانادا ملاقات نمود

دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با "دیف میتکالف" سفیر کانادا در افغانستان دیدار نمود.
دیدار سفیر کشور کانادا با سرپرست وزارت معارف روی همکاری های آموزش و پرورش، کشور کانادا در افغانستان عنوان شده است.
دست آورد های اخیر وزارت معارف افغانستان در خصوص آموزش و پرورش از جانب سفیر کانادا مورد ستایش قرار گرفته و آینده معارف افغانستان با یک چشم انداز و روزنه خوب پیشبینی شد.
دکتر محمد میرویس بلخی با توجه به نقش همکاری های کشور کانادا در نظام آموزش و پرورش افغانستان گفت: کمک های خارجی به آدرس وزارت معارف از این به بعد بر مبنای یک برنامه منطقی و از قبل تعیین شده به مصرف خواهد رسید. هدف ما از این کار عبارت از مصرف کمک در مناطق بیشتر آسیب پذیر و نیازمند است. بلخی گفت: وزارت معارف افغانستان از تمرکز بیش از حد روی مرکز به نتیجه مثبت نخواهد رسید از همین رو باید تمرکز روی نقاط دوردست و ولایات دیگر صورت گرفته تا باشد به معنی



اصلی انکشاف متوازن در سراسر افغانستان برسیم.
آقای میتکالف سفیر کشور کانادا طراحی پالیسی برای ده سال آینده وزارت معارف و شروع دهه حمایت از معارف را یک اقدام بی پیشینه در عرصه معارف افغانستان دانسته و گفت: کانادا متعهد است برای بهبودی سطح سواد و آگاهی مردم افغانستان در عرصه معارف سرمایه گذاری کند، باور ما این است که کار شیوه های جدید مدیریتی در چوکات این وزارت، شفافیت در اجرای پروژه ها را بالا برده و میتواند باورمندی نهاد ها و کشور های کمک کننده را نسبت به این وزارت بالا ببرد.
بالا رفتن نقش خانم ها در سطوح رهبری وزارت معارف و اعلان بیش از ۱۰ پست ریاست آموزشگاه های تربیه معلم تنها برای زنان، اختصاص یافتن پست معاونیت تمامی ریاست های معارف ولایات به بانوان، معرفی اولین رهنمود حفظ الصحه دختران توسط وزارت معارف و برنامه توزیع رایگان تابلیت های (آهن و فولیک اسید) در مکاتب به دختران از برنامه های عملی شده وزارت معارف افغانستان در خصوص بانوان است که از سوی دکتر محمد میرویس بلخی برای سفیر کشور کانادا شریک شد.
اقدامات اخیر وزارت معارف افغانستان از جانب سفیر کشور کانادا آقای "دیف میتکالف" مورد استقبال قرار گرفته و از رهبری وزارت معارف برای تحولات اخیر و مثبت اظهار قدردانی نمود.

## د پوهنې وزارت سر پرست د هېواد د ۳۴ ولایتونو د پوهنې له رئیسانو سره وکتل

د پوهنې وزارت سرپرست جلالتمآب داکتر محمد میرویس بلخي په خپل کاري دفتر کې د هیواد د۳۴ ولایتونو د پوهنې له رئیسانو سره وکتل.
داکتر میرویس بلخي په ولایتونو کې د



پوهنې رئیسان د پوهنې وزارت استازي وبلل ټینګار یې وکړ چې له فساد سره مبارزه باید د دوی په لومړیتوبونو کې وي.
ښاغلي بلخي وویل: د پوهنې له رئیسانو سره لیدل ډیرې ښې پایلې لري او هغوی ته یې لارښوونه وکړه چې معارف سیاست څخه لرې وساتي،
ښاغلي بلخي په ولایتونو کې د پوهنې رئیسانو ته د صلاحیت په ورکولو سره له دوی وغوښتل چې د کارونو په اجرا کې د هڅه وشي چې چارې غیر مرکزي کړي ترڅو چارې په بریالۍ توګه او ژر ترسره شي.
ښاغلي بلخي د پوهنې رئیسانو ته لارښوونه وکړه چې د عمومي زده کړو ترڅنګ دخصوصي زده کړو او سواد زده کړې مرکزونو په پراختیا کې د خپلې هڅې ګړندۍ کړي. وروسته د پوهنې وزارت مالي او اداري معین ښاغلي سید حمیدالله له رئیسانو وغوښتل تر څو د پراختیایي بودجې په مصرف کې له پوره صداقت او امانت داري څخه کارواخلي. همدارنګه د پوهنې وزارت د دفتر مقام رئیس ښاغلي ذبیح الله فطرت هم له راغلو رییسانو وغوښتل چې د ګزارش په ورکولو کې خپلې کړنې په وخت له مرکز سره شریکې کړي په پای کې د پوهنې ولایتي رئیسانو د چارو د ښه ترسره کیدو په غرض خپلې ستونزې، وړاندیزونه او حل لارې د پوهنې وزارت له رهبرۍ سره شریکې کړې.
وروسته ښاغلي بلخي د مننې په خرګندولو سره د پوهنې وزارت د ولایتي رئیسانو هڅې د قوانینو او مقرراتو په مراعاتولو کې وستایلې ټینګار یې وکړچې د پوهنې وزارت رهبري به د اسانتیاوو په برابرولو کې له دوی سره همغږې وي او له دوی څخه به هر راز ملاتړ وکړي.

## لوګر کې پر ښوونکو او زده کوونکو درسي مواد وویشل شول

د لوګر د مرکز او ولسوالیو د ښوونځیو د لومړنیو ټولګیو پر ښوونکو او زده کوونکو د قرطاسیې وېش پیل شو.
یاد درسي مواد، چې د یونیسف موسسې له لورې مرسته شوي؛ څه باندې ۳ میلیونه افغانۍ ارزښت لري. په دې موادو کې ۵۶۷ کیټه د زده کوونکو قرطاسیه، ۵۶۷ کیټه د ښوونکو قرطاسیه او ۳۵۴ کیټه نور د کتابونو بیکونه شامل دي.
یاد مواد د لومړیو ټولګیو په ۵۶۷ ښوونکو او په ۱۴۱۶۰ زده کوونکو وېشل کېږي، چې د یادو ښوونکو او زده کوونکو شته اړتیاوې به پرې حل شي.
د زده کوونکو د قرطاسیې په موادو کې کتابچې، قلمونه، پنسلونه، پنسل پاك، قلم تراش، رنګې، د کتابونو بیکونه او د ښوونکو د قرطاسیې په موادو کې تباشیر، حاضریانې او د زده کړې ځینې نور ضروري توکي شامل دي.
د روان ښوونیز کال له پیله تر اوسه دوه ځلې نور هم د لوګر د لومړنیو ښوونځیو پر ښوونکو او زده کوونکو ورته درسي مواد وېشل شوي دي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت